# په ټپه کښې ترقي پسند رجحانات

## Progresive inclination in Pashto Tappsa

Dr.Noor Muhammad Danish Bettani [1]

**Abstract:** It is an understandable approach amongst Pashtoons that the Pashto Poetry has taken its origin from tappa.Tappa has been a common and loved poetic element in Pashtun society. Due to its flexible vista, Tappa has absorbed political, cultural and social inputs from society. In other words, Tappa is flexible and absorbing. Due to this flexibility, Pashto Tappa has expressed progressive elements in Pashtun culture and society. Sometim.es, in a state of poetic frenzy, tappa has broken/ revolted against the established Pashtun traditions. This paper attempts to examine those progressive elements in Pashto tappa.

د ژبو ماهرين په دې متفق دي چې د هرې ژبې د ادب ابتدا د اولسي شاعرۍ نه شوې ده نو ظاهره ده چې د پښتو د ادب ابتدا هم د اولسي شاعرۍ نه شوې ده- - پښتو د دنيا په مخ يوه زړه او تاريخي ژبه ده څومره چې پښتو ژبه زړه او تاريخي ده دومره د پښتو اولسي شاعري هم زړه او تاريخي ده- د پښتو په اولسي شاعرۍ کښې ګڼ صنفونه دي چې ځينې پکښې اوس خپل اهميت له لاسه ورکړے دے او ځينې لګيا دي په ورو ورو د وختونو په ګردونو کښې پټيږي- د پښتو په اولسي شاعرۍ کښې لوبه، نيمکۍ، بګتۍ،سندره، بدله، چاربېته، ټپه او داسې نور صنفونه شامل دي-

ټپه د پښتو د اولسي شاعرۍ هغه صنف دے چې په ټولو کښې پخوانے هم دے او مقبول هم- د پښتو د ژبې ماهرين خو دا هم وائي چې د پښتو د اولسي شاعرۍ ابتدا د ټپې نه شوې ده . په دې حق له پروفېسر داور خان داود ليکي:

"پښتو شاعري د پښتون هومره زړه ده- کله نه چې پښتون قام په وجود کښې راغلے دے يا يې د ژوند اثار په ګوتو راغلي دي هم د هغې وخت نه د پښتو شاعرۍ اثار هم موندلي شوي دي- او دا خبره خو هر جا ته معلومه ده چې په شعري صنفونو کښې ټولو نه زوړ او لومړے صنف ټپه دے "[1]

د ټپې د زوړوالي او لرغونتوب په اړه مېرمن سلمٰي شاهين ليکي:

"د پښتو عوامي سندرو ابتدا هم د وړو وړو مصرعو څخه شوې ده چې ټپه يا لنډۍ يې هم ابتدايي شکل دے او د پښتو ژبې خپل کورنے تخليق دے- د دې وجود د امير کروړ د حماسي نظم نه زر کاله نه زيات پخوانے معلومېږي "[2]

پښتو ټپه هم دومره زړه ده څومره چې پښتون قام زوړ دے- لکه څنګه چې د پښتنو د تاريخ تر اوسه صحيح اندازه نۀ ده لګيدلې هم دغه شان د ټپې د تاريخ هم صحيح اندازه مشکله د ه- بهرحال دا خو ښکاره ده چې پښتو ټپه يو زوړ او تاريخي صنف دے او د پښتنو تاريخ پکښې خوندي پروت دے- ټپه د پښتو هغه مشهور صنف دے چې د پښتنو د ژوند پوره پوره ترجماني پکښې شوې ده- په دې حق له پروفېسر داور خان داود ليکي:

---

[1] .Assistant Professor Pashto Academy University of Peshawar

"د پښتنو د مزاج، فکر او جذبې چې څومره صحیح ښودنه او ترجماني ټپې کړې ده دومره د ادب بل یو صنف هم نۀ ده کړې- تر دې چې که یو غېر ملکي ادیب يا نقاد ته دغه واړه ټپې واورولې شي او ورته ووئیلے شي چې د دې په رڼا کښې د پښتون د ژوند تاریخ ولیکه نو هغه به یو داسې تاریخ ولیکي چې پښتانۀ به ورته هم ګوته په خوله شي-"[3]

اولسي شاعري بالخصوص ټپې د پښتنو په ژوند دومره اثر کړے دے چې نر، ښځه، ماشوم، بوډا، زلمے او پېغله يې پخپلو محفلونو کښې د خپلې خبرې ته وسعت او دلیل دپاره لکه د نقل (متل) وايي او ده هم داسې چې په ټپه کښې دومره وسعت او زور شته چې په وخت د ضرورت ووئیلے شي چې اوریدونکے متاثره هم شي او خبره يې زړۀ ته هم کوزه شي- ټپه د پښتو یو داسې صنف دے چې څومره پرې وخت تېرېږي دومره په اولس کښې نور هم شهرت مومي- حالانکې د وخت تېرېدو سره په اقدارو او روایاتو کښې بدلون او نوے والے راځي چې په نتیجه کښې يې زاړۀ اقدار او روایات له مېنځه ځي خو په پښتو ټپه کښې دومره اثر دے چې دا لکه د پښتنو د وخت بې رحمه چپو هم فنا نۀ کړه بلکې د وخت د تګ سره يې خپل سفر ته دوام ورکړے دے-

پښتو ټپه د پښتنو شریک میراث دے هیڅوک هم په دې د ځاني ملکیت دعوٰي نۀ شي کولې- ټپه چې یو ځل ووئیلې شوه بس هغه بیا د پښتنو شریک میراث وګرځیده- هم دغه عمومیت د ټپې د مقبولیت تر ټولو غټ ثبوت دے- دا خبره په ځاے او صحیح ده چې ټپه یو عوامي صنف دے هر څو که لیکونکے یوه ټپه پخپله تخلیق هم کړي خو بیا هم دا لیکونکے په دې ټپه د خپل تخلیق دعوٰي نۀ شي کولے وجه ئې هم دغه د ټپې عوامیت دے کومه ټپه چې عوامیت نۀ لري نو هغه بیا ژوندۍ هم نۀ شي پاتې کیدے-

ټپه د پښتو خپل او یواځینے داسې صنف دے چې د دنیا په یوه ژبه کښې هم مثال نشته- پروفیسر داور خان داود لیکي

"د پښتو واړه فولکلوري اصناف یو عالمګیر حثیت لري خو یواځې ټپه (لنډۍ یا مصرعه) د پښتو خپل ځانګړے صنف دے چې د نړۍ په یوه ژبه کښې هم څۀ څرکنده نمونه نشته "[4]

د ټپې د معجزې په حق له پروفېسر محمد نواز طائر لیکي

" ټپه یا لنډۍ د پښتو ژبې یوه داسې معجزه ده چې د زمکې په مخ ئې په یوه ژبه کښې هم د دې مثال نشته "[5]

لکه څنګه چې مخکښې وئیلې شوي دي چې ټپه په شعري اصنافو کښې تر ټولو مقبول صنف دے داسې ښځه نر به نۀ وي چې یو دوه ټپې نۀ شي جوړولې یا ورته یادې نۀ وي نو ځکه خو یو مشتشرق د پښتنو په حق له وئیلي وو "پښتانۀ فطرتاً شاعران دي "[6]

ټپه چې پښتنو خوښه ده نو هسې يې نۀ ده خوښه بلکې په دې کښې دننه بلها شیریني ده- شعریت، برجستګي، سلاست، رواني او سادګي د دې هغه خوبۍ دي چې دې ته په نورو شعري صنفوفو ځانګړتیا وربخښي- په ظاهره یو عام او ساده صنف دے خو دا عام او ساده صنف هغه ټولې خوبۍ لري کومې چې نن سبا د یو جدید او معیاري صنف دپاره ضروري دي- ټپه کښې هغه محاسن په کثرت سره موندلے شي کوم چې په د شعر په ښکلا او اثر کښې اضافه کوي- په ټپه کښې چې څومره فصاحت او بلاغت دے شاید چې په نورو شعري اصنافو کښې په نظر راشي- مونږ سره داسې ټپې شته که چرې هغه د پښتو د زړو او نوو ښو ښو شاعرانو د شعرونو سره په تله کښې کېښودلې شي نو په یو لحاظ به ترې هم دا ټپې

کمې نۀ وي- رحمان بابا د پښتو مقبول ترين شاعر دے- د هغۀ کلام د سهل ممتنع يو بهترين مثال دے- هغه د انسانيت شاعر دے- د هغۀ په کلام کښې موجودې انسان دوستي د هغۀ کلام ته افاقيت وربخښلے دے- هغه وايي

د خليل تر کعبې دا کعبه ده لويه
7 که اباد که څوک ويران حرم د زړۀ

د رحمان بابا دا کلام د انسان دوستۍ او بشر دوستۍ يوه غوره نمونه ده- هم دغه خبره په يوه ټپه کښې په څومره ښکلي پيرايه کښې بيان شوې ده-

د مئين زړۀ جمات خانه ده
که مسلمان يې وران يې نۀ کړې ديوالونه[8]

خاطر اپريدے هم د پښتو د شلمې صدۍ يو ښۀ او مشهور شاعر دے- د هغۀ يو شعر دے

خاطره زۀ د تا نه چا وړې يم
وار به دې راشي خو که وار دې وکړو

اوس دا ټپه هم يو نظر وګورئ

صبر کوه خدائے به مې درکړي
په بې صبرۍ معشوقې چا موندلې دينه[9]

دلته د پښتو د موجوده وخت يو بل مشهور او لوے شاعر رحمت شاه سايل شعر رانقل کولے شي او ورسره يوه ټپه هم چې ترې نه دا اندازه ولګي چې پښتو ټپه د خپل قدامت باوجود څومره جديده ده-

بيا به تمبيرې د پلکونو ګوزارونه درنه
د ستمګرو مينه وکړه نو سندان به شې

په عاشقۍ کښې زړۀ سندان که
پکښې پېښېږي د پلکونو ګوزارونه[10]

که چرې د ټپې تنقيدي جايزه واخستلے شي نو داسې بلها مثالونه به مخې ته راشي- د دې بحث نه د ذکر شوو شاعرانو اهميت کمول مطلب هرګز نۀ دے بلکې د ټپې اهميت راښکاره کول دي چې د نننۍ دور جديد ليکونکي هم دې اړخ ته پام لرنه وکړي-

د پښتنو د ژوند داسې اړخ به نهٔ وي چې د هغې متعلق څهٔ نه څهٔ ټپې نهٔ وي وئيلې شوې- او چې کومې وئيلې شوې دي هغه دومره موثرې دي چې اکثر پښتانهٔ يې د متل په توګه وايي- ټپې ته دا انفراديت هم حاصل دے چې په يوه نيمه مصرعه کښې لويې نه لويې موضوع داسې راغونډه کړي چې بنده ورته حېران شي-

د موضوعاتو په لحاظ هم ټپه ښه غني ده- د لرغوني دور نه واخله تر دې جديد دور په هره مسئله او پېښه بلها ټپې شتون لري چې د پښتو اولسي او شعري ادب پرې په حقه وياړ کولے شي- د جذبې صداقت، د فکر ژوروالے، د خيال فراختيا او باريک بيني هم د ټپې خاصه او حصه ده-

پښتو ټپې د انساني ژوند د هر اړخ په ډېرو ښو لفظونو کښې ترجماني کړې ده- سياسي، سماجي،نفسياتي، سائنسي،مذهبي او کلتوري اړخونو نه يې ښه پرېمانه استفاده کړې ده خو په دې ټولو موضوعاتو باندې دا مهال خبره کول د دې مقالې خېټه نهٔ زغمي نو دې سوبه نيغ په نيغه خپلې موضوع ته راګرځو- خو تر ځو چې په ټپه کښې د ترقي پسندو رجحاناتو ذکر ته رسو نو مناسب ده چې اول د ترقي پسندۍ وشي-

په روس کښې چې کوم انقلاب په ۱۹۱۷ کښې راپورته شو هٔ په فکري لحاظ يې ټوله نړۍ په مخ واخسته او په ادب خو يې له هر څهٔ زياته اثر وکړو- په برصغير هم د دې تحريک اثر وشو او ۱۹۳۵ کښې د انجمن ترقي پسند مصنفين د تحريک بنياد کېښودے شو او د هغه وخت لويو او مشهورو ليکونکو پکښې ګډون وکړو- تر اوسه خو ادب يا خو وخت تېرې دپاره پکارولے شو او يا پکښې قصيدې او هجوې کيدے- داسې هم نهٔ ده چې د دې تحريک د قيام نه مخکښې مقصدي ادب نهٔ دے تخليق شوے بلکې په هر دور کښې او لويو تخليق کارانو مقصدي ادب تخليق کړے دے-

ممتاز شيرين په دې حواله ليکي

"یہ کہنا غلط نہ ہوگا کہ اس تحریک سے پہلے ادب میں زندگی کی صحیح عکاسی نہیں ہوئی تھی۔ ہر دور کا بڑا ادب زندگی کا آئینہ دار ہوتا ہے"[11]

خو دې تحريک په باقاعده توګه ليکونکو کښې يو نوے سوچ پېدا کړو او هغوي يې دې ته وهڅول چې په شعوري توګه يو مقصدي او داسې ادب تخليق کړي چې په هغهٔ کښې د ژوند سره تړلې ټولې مسئلې بيان کړې شي او دې مقصد دپاره ئې "ادب دپاره د ژوند "يو زبردسته نعره ووهله چې په ټوله خطه کښې لکه د ځنګل د اور خوره شوه-

نن سبا ډېر خلق ترقي پسندي فقط کميونزم او سوشلزم پورې تړي خو خبره داسې هرګز نهٔ ده کميونزم او سوشلزم يوه معاشي نظريه ده چې څهٔ نه څهٔ تعلق يې ترقي پسندي سره شته خو دا به سمه خبره نهٔ وي چې ترقي پسندي دپاره کميونزم يا سوشلزم ضروري دے- اوس چې ځيني خلق صرف په دې بنياد د ترقي پسندي مخالفت کوي چې ګني دا د کميونزم سره تړلې نظريه ده هغوی بايد په اسلام کښې هم موجودې ترقي پسندۍ ته وګوري نو هر څهٔ به ورته لکه د نمر ښکاره شي- د اسلام نه مخکښې چې په دنيا کښې کومه تيارهٔ خواره وه او د انسانانو چې پکښې څومره سپکوے کيدو هغه د چا نه پټ نهٔ دے- اسلام راتلو سره هر چا ته خپل حق ترلاسه شو او هر سړي ته د اظهار ازادي ورکړے شوه چې مخکښې يې تصور هم نهٔ شو کيدے- د انسان په فطرت کښې ترقي پسندي ده او اسلام يو فطري دين دے نو دا کله هم ممکن نهٔ ده چې اسلام د ترقي پسندي خلاف دے يا ترقي پسندي په اسلام کښې نشته-

صنوبر حسين کاکاجي ليکي:

"مونږ که فکر وکړو چې مونږ ترقي ولې غواړو ؟ ځکه چې مونږ وروسته يو مونږ پاتې يو او دا واقعي ده ، نو اوس دا خبره اسانه شوه چې ترقي پسندي څه ته وايي ، د يو پرېوتي قوم زيات پرېوتې ، محتاجې او بې وسه طبقې له ترقي ورکول ، هغوي ته په انسانيت کښې خپل اصلي مقام ښودل د هغوي اخلاقي، روحاني او اقتصادي حالت ښۀ کول ترقي پسندي ده"[12]

د اردو ژبې ليکونکے جاويد اختر د ترقي پسندۍ په حق له ليکي:

" ترقی پسندی کا مطلب روایات سے یکسر انکار نہیں ہے بلکہ روایت کی غلامی کے بجاے تجربات سے بھی سبق حاصل کرنے پر اصرار کرنا ہے، تغیر کو تسلیم کرنا روایت کی توہین کرنا نہیں ہے- ترقی پسندی کا مطلب ہے ایک عقلی اور سائنسی طرز فکر معاشرت کی ترغیب ، ارٹ اور ادب کو مخصوص ذہنی عیاشی کی چیز نہ سمجھنا اور اسے بامقصد اور افادی بنا کر معاشرے کی خرابیوں کے خلاف اواز اٹھانا اور مثبت قدروں کو مستحکم کرنے کی کوشش ترقی پسندی ہے "[13]

انسان چې په کوم ماحول کښې اوسي نو د هغه ماحول ورباندې ارو مرو اثرکېږي- دغه شان يو ژوندے او فعال ادب هم د خپل ماحول د اثراتو نه بچ نۀ شي پاتې کيدے- هم دغه ماحولي اثرات د يو مقصدي ادب په تخليق کښې لاس لري- او مقصديت د ترقي پسندۍ بنياد او محور دے- ترقي پسندي که هر څو يوه جديده اصطلاح ده خو په پښتو کښې د دې ځښې نښانې ډېرې زړې دي- په شعوري طور نۀ سهي خو په غېر شعوري توګه د دنيا په هر لوے ادب کښې په هر دور کښې بامقصده ادب تخليق شوے دے- سليم راز ليکي

"ترقي پسندي پښتو ادب کښې د نوم له لحاظه نوې ضرور ده خو د مفهوم له مخه څۀ نوے شے نۀ دے ، د پښتو په کلاسيکي او جديد ادب کښې غالب رجحانات ترقي پسند دي "[14]

د ترقي پسندۍ په حواله ډاکټر محب وزير ليکي

"ترقي پسندي د يوې فلسفې نوم دے چې د انسان دوستۍ، عقل پرستۍ، وطن پرستۍ، سامراج دښمنۍ او د قام او انفرادي ازادۍ غږ پورته کوي، ترقي پسندي د يوې نظريې نوم دے چې په سماج کښې موجود طبقاتي لړي برې، اقا و غلام، زميندار او بزګر ، سرمايه دار او خواري کښ او د حاکم او محکوم په خلاف انساني شعور نۀ صرف راوېښوي بلکې د طبقاتي لړي برې نه پاک د يو انسان دوست سماج په وجود کښې راوستو دپاره وګړے عملي ګامونو اخستو دپاره هم تياروي."[15]

پښتو ادب بالخصوص ټپه د پښتو يو داسې شعري صنف دے چې زاړۀ نه زاړۀ او جديد نه جديد رجحانات پکښې ښۀ په ګڼ شمېر کښې ملاوېږي- سليم راز هم دې خبرې سره متفق دے هغه ليکي:

" که د پښتو شاعري ابتدا د ټپې نه وکړے شي او بيا وړاندې فولکلور او د اولسي سندرو او قيصو جايزه واخستې شي نو په دې کښې د خپلې خاورې د خوشبو سره سره د خپل وخت ټول حقيقتونه به مخې ته راشي کوم چې زما په خيال د ترقي پسندۍ بنيادي روايت او د روايتي بنياد درجه لري."[16]

لکه مخکښې ذکر وشو چې د پښتو زړې او نوې شاعرۍ کښې غالب رجحانات ترقي پسند دي چې بنيادي وجوهات يې د خپلې خاورې سره تاريخي، نسلي، لساني، ثقافتي، نفسياتي تړون دے- پښتو ټپې د پښتون چاپېرچل کښې روانو د ژوند د هلو ځلو سره يوه مضبوطه رشته ده-

انسان دوستي،روشن خيالي، اعتدال پسندي، امن پرستي، مزاحمت، د اظهار ازادي، دخپلې خاورې سره کلک تړون، د پرېوتي او خوارې کښې طبقې حمايت د ترقي پسندي بنيادي توکي دي- اوس که په دې تناظر کښې ټپې ته وکتلے شي نو په وثوق سره وئيلے کيدے شي چې څومره ترقي پسند رجحانات چې په ټپه کښې دي دومره يې د پښتو جديد ادب هم نۀ لري-

مزاحمت چې د ژوند دويم نوم دے او د ترقي پسندي ښکاره جز دے او ټپه خو د مزاحمت نه پېدا شوې ده نو لازمه خبره ده چې د مزاحمت نه به ډکه وي- په مزاحمتي ادب کښې سياسي، سماجي او معاشي ازادۍ ته اوليت حاصل دے- مزاحمتي ادب په اصل کښې ترقي پسند ادب دے- يواځې چې په ټپه کښې څومره مزاحمت دے د دنيا د يوې ژبې په اولسي ادب کښې هم نشته-

ښځه په هره ټولنه کښې خو خصوصاً په پښتنه ټولنه کښې (چې په اصل کښې نرينه ټولنه ده) د سړو په خوښه او مرضي وخت تېروي او خپله يې هيڅ واک و اختيار نشته تردې چې پخپل ځان او بچو هم څۀ واک نۀ لري- چې ډېره هم مجبوره شي نو بس خپل ځان سره وژاړي او هغه هم په پټه- دوي سره داسې څۀ نشته چې خپل غم پرې غلط کړي- پښتو ټپه واحده ذريعه ده چې ټول عمر د دغې محرومې طبقې په ګټه راغلې ده او خپل د زړۀ براس يې وربانديې ويستلے دے- د ټپې ليکونکے نۀ وي معلوم چې سبب يې هم دغه کيدے شي چې دا اکثر د ښځو له خوا وئيلې شوې ده او دوي خپل نوم نه نۀ شو راښکاره کولے- او دوي پکښې هغه څۀ ووئيل چې په زړۀ يې وو خو په خوله يې نۀ شو وئيلې او ټپې ورته د اظهار موقعه ورکړه او هغه ټول بنديزونه او قدغنونه يې مات کړل کوم چې د سماج له خوا په دوي لګيدلي وو- بلکې د مينې دپلوه يې د مذهب هم پروا نۀ ده کړې او د مذهبي روادارۍ ثبوت يې ورکړے دے او په جار يې وئيلي دي

يار مې هندو زۀ مسلمان يم
د يار دپاره درمسال جارو کومه[17]

په دې لنډۍ کښې ټول تضاد ات لکه قومي ، ژبني ، طبقاتي او تر دې حده چې مذهبي او ديني اختلافات په نظر کښې نۀ دي نيول شوي . دلته صرف مينه ورته ارزښت لري او بس . مئين چې مسلمان هم دے د خپلې پاکې مينې په احترام او دهندوې معشوقې دپاره درمسال ته ځي او د هغې رضا دپاره يې جارو کوي- د دې ټپې په تناظر هغه الزام چې "پښتانۀ مذهبي انتها پسند دي "بې بنياده ثابتېږي- دا ټپه او هم دغه شان دا نورې ټپې هم د پښتو ټپه کښې د اظهار د ازادي ښکاره دليلونه دي-

يار مې هندو زۀ مسلمان يم
د کليمې سره رام رام هم يادومه[18]

او يا دا ټپه

د مينې زور راته معلوم شو

که مې هندو پـه خور مئين شو ور به يې کړمه

د ذکر شوو ټپو کښې چې کومه د اظهار رايې ازادي ده ګمان نۀ کېږي چې د دې په نورو شعري صنفونو کښې مثال په نظر راشي- په موجوده دور کښې هم دا دميني رشته او جذبه په ټوله دنيا کښې د تنګ نظرۍ، فرقه واريت او د تعصب لګيدلے اور مړ کولے شي- هغه اور چې دانسان سره سره يې ټول کاييات پخپله ولقه کښې اخستے دے- هم دغه اور دے چې انسانيت يې ايره کړے دے او انسان د حيوانيت په تنګو او تورو درو ورننوتے دے چې اوس ورته د سړيتوب ګلستان ته د واپسۍ څۀ رؤ ګودر نۀ ښکاري-

ترقي پسند رجحان د انساني غلامۍ سخته غندنه کوي- يو مترقي سوچ لرونکے مرګ ته فوقيت ورکوي خو د غلامۍ ژوند نۀ خوښوي- انسان فطرتاً ازاد پېدا شوے دے نو ځکه هغه ازاده زندګي تېرول غواړي-

ازاد پېدا يم ازاد خوښ يم
په ازادۍ به سر و مال تالا کومه [19]

زما خولګۍ د هغه چا ده
چې غلامۍ له يې طلاق ورکړے وينه [20]

پښتانۀ چې څومره په ازادۍ مئين دي تاريخ پرې ګواه دے- ټول عمر يې د دنيا د غاصبانو سره ډغره و هلې ده- سرونه يې مات کړي دي خو ټيټ کړي يې نۀ دي- هم دغه وجه ده چې هر زورور دوي دپاره يو نه يو د جنګ محاذ ګرم ساتي او دوي پخپل واک کښې راوستل غواړي او په وسايلو يې خپله خېټه اچول غواړي خو پښتانۀ خپله خاوره د ايمان جز ګڼي او په وطن سر شيندل شهادت-

خاونده سله ځله ژوند راکړې
چې د وطن په مينه سل ځله مړه شمه [21]

خپل وطن سره مينه د انسان فطرت دے او دا فطرت تقريباً د ټولو انسانانو مشترک دے ځکه خو وايي چې په هر چا خپل وطن کشمير دے- پښتانۀ خپل مري هم په پردي وطن کښې نۀ ښخوي چې دا د پښتنو د خپلې خاورې او وطن سره د مينې ښکاره ثبوت دے- هر کله چې خبره د خا ورې او د وطن د حفاظت راغلې ده نو د زلمو سره سره پښتنو پېغلو هم خپلې خاورې او وطن سره د مينې اظهار کړے دے او په جار يې نعره وهلې ده-

که د زلمو نه پوره نۀ شوه
ګرانه وطنه جينکۍ به دې ساتينه [22]

د ټولنې زورور لکه خان، ملک او جاګيردار تل د غريب اولس حقونه وه لې دي او د خپلو ذاتي ګټو په غرض يې د علم ، شعور او د ترقۍ په لار کښې ديوال وهلے دے- هغوي د علم او پوهې د زور نه خبر دي- هغوي په دې هم پوهېږي چې که خلقو کښې د علم او شعور رڼا خوره شوه نو بيا د دوي وقار او افتخار نۀ پاتې کېږي- دا خانان، ملکان او جاګيرداران په

مختلفو طریقو په خلقو کښې داسې سازشونه کوي چې دوي دې ته نۀ وزګارېږي چې ددغو ظالمانو په خلاف منظم شي- په ځاے د دې چې دوي د دغو ظالمانو په خلاف یو موټے شي اپوته پخپل مینځ کښې په جنګ شي-

خانان به بیا سره خانان شي
پکښې توئیږي د رامبیل چا مبیل ګلونه[23]

د پښتنو سیمې اکثر غرئیزې او للمې دي- دلته د روزګار او د معاش څۀ داسې بندوبست نشته چې پرې د کال سر ګوزاره وشي- دوي به یا اوزې مېږې ساتي او یا به ټول کال د باران لارې څاري- که قدرت رحم وکړي او په موقعه باران ونه وشي نو ښه ده ګنې بیا دلته نور د روزګار څۀ سهولت نشته نو سړي وطن پرېږدي او په کالونو کالونو مسافر شي- په خوا به پښتانۀ هندوستان ته تلل او اوس خو په دنیا کښې داسې ښار نشته چې پښانۀ پکښې د خېټې د جهنم سړولو دپاره د ژوند شپې ورځې نۀ تېروي- د دغو مسافرو ته په وطن کښې ډېر خلق لارې څاري- خو یوه پېغله چې د یو مسافر پۀانتظار ستړې شي نو له سوخته یوه داسې چیغه وکړي چې د بنده زړۀ درې ورې کړي-

په هندوستان خوشحاله ګرځه
ترله دي خپله په نامه دې ناسته یمه[24]

په پښتنو کښې یو دا روایت هم ؤ او په ډېرو سیمو کښې اوس هم شتون لري چې ترله به د تربور وي- په دې کښې که یو طرف ته خاندان ته په رشتې کښې څۀ اسانتیا وي نو بل طرف ته پکښې ډېرې ستونزې هم راځي او کله کله خو خبره د دوو زړونو د ماتیدو په ځاے د دوو کورونو د تباهۍ سبب هم وګرځي- په پښتنه ټولنه کښې تربور په منفي معنو کښې اخستل کېږي نو ځکه یوه ترله هم د تربور په باره کښې څۀ داسې اظهار کوي-

په کوټه اوخیژه ناري که
چې د ترلې او تربور نۀ کېږي کورونه نه[25]

وړاندې هم ذکر شوے دے چې ښځه او ټپه یو بل سره لازم او ملزوم دي- ښځو د خپلو احساساتو په ډېر لطیف انداز کښې په ټپه کښې اظهار کړے دے- ښځو ته چې کله هم د خپلې بې وسۍ احساس شوے دے نو سمدستي یې د ټپې اسره کړې ده- پښتانۀ چې په ظاهره خو په اسلام ډېر مئین دي خو چې خبره د خور لور د حقونو راشي نو بیا ترې مخ وګرځوي او په جائیداد او نور ملکیت کښې یې د خپل حق نه محرومه کړي- خو پښتنو ښځو هر ظلم زغملے دے خو همت یې نۀ دے بائیللے- محنت او مشقت کوي خو سوال دپاره بل ته لاس نۀ نیسي-

د موزیګې نه کونډه ښۀ یم
توره ځرخه به ګرځوم ځان به ساتمه[26]

پېزار زماپه پښو کښې تنګ شو
یار مې ساده دے زۀ پخپله ښار ته ځمه[27]

نیستي پېغور نۀ دے جانانه
زۀ به چرګ بانګ مېچنه ستا دپاره کړمه[28]

پښتنو ښځو په عملي توګه دا ثابته کړې ده چې مونږ د سړو نه کمې نۀ یو خو خبره د واک او اختیار ده کوم چې دوي ته نۀ دے حاصل- دا معاشره چونکې د سړي معاشره ده نو چې کوم څۀ سړي غواړي هغه د دوي مجبوري ګرځېدلې ده او خپله خوښه یې تل د سړو په خوښه کښې ورکه شوې ده- د احساس محرومي دا اور کله کله د بغاوت شکل خپل کړي او کله د طنز هغه تیرۀ غشي وورو‌ي چې د کاڼو سینو کښې هم پورې را پورې ووځي-

صورت زما واک یې د نورو
خدایه! تۀ واخلې دا بې واکه صورتونه[29]

چې ډوډۍ خورم دادا قارېږي
چې روپۍ شرنګ کړي دادا شین له خندا شینه[30]

لوږه او معاش د انسان له ازله یوه لویه ستونزه پاتې شوې ده- او هم دې ستونزې د انسان د عقل او شعور په سترګو پټۍ لګولې دي- زورورو د خپلې خېټې او هوس په غرض په ټوله دنیا کښې د وېر او ماتم مېدان ګرم کړے دے او کمزورو د خېټې د تش جهنم ډکولو دپاره هره جایزه او ناجایزه لاره خپله کړې ده- د زمکې په وسایلو د مخصوصو خلقو اجاره داري په ټوله دنیا کښې د عدم مساوات لمبې خورې کړې دي- مزدورکار چې شپه ورځ کار کوي نو بیا یې هم ښه ورځ په نصیب کښې نۀ وي او جاګیردار، سرمایه دار چې د ټکې کار هم نۀ کوي خو ژوند په عېش و عشرت کښې تېروي-

تازیان د لوږې نه کارۀ دي
په کوڅه ډبو سپو خوړے شي پولاؤنه[31]

که دا ووئیلے شي چې جنسیات د انسان فطري جبلت او ضرورت دے خو په ټپه د دې اظهار د ازادۍ تر انتها رسیدلې دے نو دا به غلطه نۀ وي ولې چې په یوه نیمه ټپه کښې داسې خبرې هم مخې ته راشي چې په شعر کښې څۀ چې د ملګرو په محفل کښې هم نۀ ذکر کېږي- دا انفرادیت صرف ټپې ته حاصل دے چې دومره باریکې نقطې هم داسې به بې باکۍ بیان کړي چې سړے ورته حېران شي-

چې څۀ دې کړۀ هغه دې وکړۀ
اوس مې پلو په مخ راخور کړه خوب راځینه[32]

جانانه راشه څُله مې واخله
بیا به ګیله کړې چې دې تش شړلے یمه[33]

ملا په خدا ے به شي بانګ وايه
د زنې سر مې جانان کندې کړونه[34]

تېنګه مې مه نيسه په غېږ کښې
سبا به بويي د لونګين درخته ځينه[35]

څومره چې انسان پرمختګ کوي دومره يې د ذهن کړکۍ خلاصېږي- پښتنه ټولنه وروسته پاتې ټولنه ده- نو ځکه د توهماتو سره تړلي څيزونو کاروبار پکښې ښۀ به درز کښې روان دے- جعلي پيران، جاهل ملايان او نيم حکيمان د خوار اولس جېبونه ډېر په هوښيارۍ او چلاکۍ تروړي او ورته د دروغو تسلۍ ورکوي چې دا خوار او ساده اولس ورباندې لکه د ايمان يقين ساتي- په اوسني سائنسي دور کښې هر سړي دومره پوهه او شعور حاصل کړے دے چې د ساد او غل تميز وکړے شي خو بيا هم دې پوهې او شعور نه اوس هم ډېر خلق بې برخې دي چې د توهماتو ښکار دي او د دې کسب ګرو په پښو کښې لوغړېږي او د دوي د مکر او فريب نه ډک کاروبار ته دوام وربخښي-

پيره بابا په ډاګ يې ووله
په تا تېرېږي ديوانه بابا له ځينه[36]

خلق زيارت له پتاسي وړي
زۀ د جوارو پولۍ وړم چې کونډه شمه[37]

په ټپه کښې که يو طرف ته د توهماتو په کثرت سره ذکر شوے دے نو بل طرف ته يې رد هم ورباندې کړے دے او دايې يو داسې مرض ښودلے دے چې د انسان د ذهني ترقۍ ټولې لارې يې نيولې دي-

جانان په هيڅ نۀ رضا کېږي
د دروغجن ملا دې ورک شي تعويذونه[38]

هر کله چې ټولنه يو داسې صورت حال سره مخ شي چې هر خوا ته اړې ګړې ، انتشار، ظلم او بربريت خپلې هوسناکې پنجې ښخې کړې وي په دې وخت کښې اولس سره هم د هغو په شان اه و فرياد کول ساهو او ترقي پسند ادب نۀ دے بلکې د ترقي پسند ادب فريضه دا ده چې اولس د مايوسۍ د تيارو نه وباسي او د اميد او رڼا منزل ورته په ګوته کړي- چې ټولنه د هر قسمه انتشار نۀ وساتي او د ظلم او بربريت خلاف يې راولړزوي او ورته د اتحاد چل او طاقت هم و ښئي- پښتو ټپې دا فريضه په ډېره ښه توګه ادا کړې ده – هر کله چې د زلمو پښې به مېدانِ جنګ کښې ښوئيدلې دي نو د هغوي مات زړونه په يوه ټپه رالړزيلي او په دښمن يې داسې چپاو کړے دے چې بائيللے مېدان يې په فتح بدل کړے دے-

که په مېوند کښې شهيد نۀ شوې
ګرانه لاليه بې ننګۍ له دې ساتينه[39]

تۀ په مخ ځه مه ايساريږه
په شا دې ناوې پښتنه ولاړه يمه[40]

وار چې خطا نۀ کړې جانانه
په توره شپه پسې رڼا د سبا وينه[41]

پښتانۀ وايي چې "سياله په بوټي پورې هم وخت تېروي" د دې نقل (متل) په مصداق پښتنې پېغلې پوره پوره ختلې دي – هر غم او درد يې په چپه خوله زغملے دے- خپل ځان ته يې نۀ دي کتلي خو د پلار او ورور د عزت او شملې خيال يې ساتلے دے- خو ښځه هم انسان دے لکه د سړو زړۀ او احساس لري- د دې هم ځۀ غوښتنې شته نو اخر د برداشت هم څۀ حد وي او بيا چې د زړۀ خبره يې تر شونډو راغلې ده نو يا د بغاوت سره لمبه ترې جوړه شوې ده او يا بيا د سړو سرېتوب ته پېغور شوے دے-

زما بې بې دادا ته وايه
خوشحاله نۀ يم له ناکامه ناسته يمه[42]

هلکه ننګ راباندې وکه
پلار مې ښامار دے ما ښامار لوه ليږينه[43]

سوال د الله په در کښې وکه
پلار مې سودي دے ما مالدار له ورکوينه[44]

په پټ کښې تور مصلي ښۀ دے
بې پته يار که شهزاده شي څۀ به يې کړمه[45]

په غلامۍ کښې مې قبول که
نور د کم ذاتو خلقو نۀ وړم منتونه[46]

لنډه دا پښتو ټپه يو داسې صنف دے چې پښتانۀ پرې وياړ کولے شي ځکه چې دے خو يو اولسي صنف خو چې څومره فصاحت و بلاغت لري د هغې مثال نشته او چې کومه موضوع هم پکښې بيان شي نو نبغه په زړۀ ورننوځي- او د خوشحالۍ خبره خو دا ده چې کوم مقصد دپاره په نورو ژبو کښې تحريکونه چلېږي هغه په ټپه کښې په څۀ نه څۀ شکل کښې ضرور ملاوېږي-

# حوالې

---

[1]. داور خان داود ،پروفېسر، پښتو ټپه، پېښور،یونیورسټي بک اېجنسي خېبر بازار، س ن ،مخ ۳۴.

[2]. سلمٰی شاهین، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پېښور، جدون پرنټنګ پرېس، ۱۹۸۸، مخ۱۷

[3]. داور خان داود ،پروفېسر، پښتو ټپه، مخ ۳۵-۳۶.

[4]. داور خان داود، پروفېسر، خوشحال او فولکلور، پېښور، جدون پرېنټنګ پرېس،فروري ۲۰۰۲، مخ ۱۹.

[5]. طائ، محمد نواز، روهي ادب(اردو ترجمه سید صفدر علي شاه) مخ ۸۸.

[6].داور خان داود ،پروفېسر، پښتو ټپه، مخ ۳۴

[7]. عبدالرحمان بابا ،د رحمان بابا کلیات،پېښور، محکمه‌ثقافت صوبه سرحد، ۱۹۹۰، مخ ۲۵۳.

[8]. داور خان داود ،پروفېسر، پښتو ټپه، پېښور،یونیورسټي بک اېجنسي خېبر بازار، س ن ،مخ ۵۴.

[9]. سلمٰی شاه ین، ډاکټر،روهي سندرې،دویم چاپ، مخ ۴۹۴

[10]. سلمٰی شاهین، ډاکټر،روهي سندرې،دویم چاپ، مخ ۱۳۸

[11]. ممتاز شیری‌ن، ترقی پسند ادب، مشموله، اردو ادب کی ترقی پسند تحری‌ک، مولف، احمد پراچه، لاهور،۲۰۱۲، ص ۴

. کاکا جي صنوبر حسېن، رحمان بابا د خپل وخت ترقي پسند وځ، مشموله تاتره، رحمان بابا نمبر ،بېښور، پښتو ادبي بورډ ، اپرېل- جون ۲۰۰۳ مخ ۵ .

12

[13]. جاوی‌د اختر، اردو ادب کی ترقی پسند تحری‌ک، مشموله، اردو ادب کی ترقی پسند تحری‌ک ،ص۴۸.

[14]. سلیم راز، یقین، پشاور، اعراف پرنٹرز ندی‌م ٹری‌ڈ سنٹرمحله جنگی، ۲۰۱۶،ص ۱۴۶

[15]. وزیر، محب، د مجذوب د شاعرۍ تنقیدي مطالعه، پېښور، امن پرېس، ۲۰۰۹، مخ ۴۲.

[16]. سلیم راز، یقین،ص۱۳۶

[17]. خان عبدالولي خان، ملغلرې، پېښور، دي پرنټ مېن پرنټرز، اپرېل ۲۰۱۳،مخ ۲۹.

[18]. سلمٰی شاهین، ډاکټر،روهي سندرې،مخ ۲۴۷.

[19]. هم دغه کتاب،مخ۲۷.

[20]. هم دغه کتاب، مخ ۴۱۷.

[21]. خان عبدالولي خان، ملغلرې، پېښور، دي پرنټ مېن پرنټرز، اپرېل ۲۰۱۳،مخ ۳۵ .

[22]. خان عبدالولي خان، ملغلرې، مخ ۵۷.

[23]. سلمٰي شاهین، ډاکټر،روهي سندرې، مخ ۲۴۲ .

[24]. هم دغه کتاب، مخ ۱۵۴ .

[25]. هم دغه کتاب ،مخ ۱۴۲.

[26]. داور خان داود ،پروفېسر، پښتو ټپه، مخ ۷۵.

[27]. سلمٰي شاهین، ډاکټر،روهي سندرې، مخ ۱۵۶ .

[28]. سلمٰي شاهین، پېغله، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، مخ ۳۹.

[29]. هم دغه کتاب، مخ ۳۸.

[30]. هم دغه کتاب، مخ ۳۸.

[31]. هم دغه کتاب، مخ ۳۸.

[32]. سلمٰي شاهین، ډاکټر،روهي سندرې، مخ ۲۱۳.

---

[33] هم دغه کتاب، مخ ۱۹۲.

[34] هم دغه کتاب، مخ ۶۰۴.

[35] خان عبدالولي خان، ملغلرې، مخ ۳۳.

[36] سلمٰي شاهين، ډاکټر،روهي سندرې، مخ ۶۰۴

[37] هم دغه کتاب ، مخ ۲۶۱

[38] هم دغه کتاب، مخ ۱۸۴.

[39] هم دغه کتاب ، مخ ۵۴۱.

[40] هم دغه کتاب، مخ ۱۷۱..

[41] خان عبدالولي خان، ملغلرې، مخ ۲۳.

[42] سلمٰي شاهين، پېغله، د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، مخ ۳۸.

[43] هم دغه کتاب، مخ ۳۸.

[44] هم دغه کتاب، مخ ۳۹.

[45] سلمٰي شاهين، ډاکټر،روهي سندرې، مخ ۱۱۹.

[46] هم دغه کتاب، مخ ۱۳۹.

## Refrences


1. Dawaw Khan ,Daud,Professor,Pakhto Tappa, Pekhawar,University Book Agency Peshawar,page no 34.
2. Salma shaheen,Da Pakhto Tappay Maasherti ao Sakafati Asar.Pekhawar,Jadoon printing Press,1988,page no 17.
3. Dawaw Khan ,Daud,Professor,Pakhto Tappa, page no 35,36.

4. Dawar Khan , Daud,Professor,Khushal ao folklore,Pekhawar,Jadoon Printing Press,2006.page no 19.
5. Tair, Muhammad Nawaz,Rohi Adab (urdu tarjama Said Safdar Ali shah ) page no 88.
6. Dawaw Khan ,Daud,Professor,Pakhto Tappa, page no 34.
7. Adbur Rahman baba , da Rahman baba Kulyat,Pekhawar,Mahakma saqafat suba sarhad,1990, page no 253.
8. Dawaw Khan ,Daud,Professor,Pakhto Tappa, page no 54.
9.Salma Shaheen,rohi Sandary dawaym jild ,page 494.
10.Salma Shaheen,rohi Sandary dawaym jild ,page.138.

11.Mumtaz Shereen,Taraqi Pasand Adab,mashmola,Urdu adab ki taraqi Pasand tahreek.molaf , Ahmad Paracha,Lahore,2012,page.4.
12. Kaka gee Sanobar husain,Rahman Baba da Khpal wakhat Taraqi Pasand wa.masmola Tatara,Rahman Baba Number,Pekhawar.Pakhto adabo Board 2003,page no 5.
13. Javed Akhtar,Urdu Adab ki ki Taraqi pasand Tahreeq,mashmola,Urdu Adab ki Taraqi Pasand Tahreeq page no 48.
14. Saleem Raz,Yaqeen, Peshawar,Aaraf Printers Nadeem Trade Centre,Mahala Jangi, 2016,page no 146.
15.Wazir, Muhib, Da Majzoob da Shairai Tanqedi mutalia,Pekhawar.
16. Saleem Raz Yaqeen ,Page no , 136.
17. Khan Abdul Wali Khan,Malghalaray,Pekhawr,,di print main Printers,2013,page no, 29.
18. Khan Abdul Wali Khan,Malghalaray,Pekhawr,,di print main Printers,2013,page no, 29.
19.Ham dagha kitab,page no, 67.
20.Ham dagha kitab, page no, 417.
21. Khan Abdul Wali Khan,Malghalaray,Pekhawr,,di print main Printers,2013,page no, 35.
22. Ham dagha kitab page no 57.
23. Salma Shaheen, rohi Sandary dawaym jild , page.242.
24.Ham dagha kitab page no 154.
25.Ham dagha kitab page no 142.
26. Dawaw Khan ,Daud,Professor,Pakhto Tappa, page no 75.
27. Salma Shaheen , Rohi Sandaray ,page no 156.
28. Salma shaheen,Da Pakhto Tappay Maasherti ao Sakafati Asar.Pekhawar,Jadoon printing Press,1988,page no 39.

29. Ham dagha kitab page no 38.
30. Ham dagha kitab page no 38.
31. Ham dagha kitab page no 38.
32. Salma Shaheen , Rohi Sandaray ,page no 213.
33.Ham dagha kitab page no 192.
34.Ham dagha kitab page no 604.
35. Khan Abdul Wali Khan,Malghalaray,Pekhawr,,di print main Printers,2013,page no, 33.
36. Salma Shaheen , Rohi Sandaray ,page no 604.
37.Ham dagha kitab,page no 261.
38. Ham dagha kitab,page no 184.
39. Ham dagha kitab,page no 541.
40. Ham dagha kitab,page no 171.
41. Khan Abdul Wali Khan,Malghalaray,Pekhawr,,di print main Printers,2013,page no 23.
42. Salma shaheen,Da Pakhto Tappay Maasherti ao Sakafati Asar ,page 38.
43. Ham dagha kitab,page no 38.
44. Ham dagha kitab,page no 39.
45. Salma Shaheen , Rohi Sandaray ,page no 119.
46. Ham dagha kitab,page no 139.